احسان الله مومند ۲۰۱۵/۰۸/۲۷

د اروپا کتاب دویم ځل چاپ شو



له نیکه مرغه په تېرو دوو کلونو کې (آسیا) کتاب د څلورم ځل،(استرالیا) د دریم ځل، (افریقا) د دریم ځل او (اروپا) د دوهم ځل له پاره خلکو ته وړاندې شول.
(اروپا؛ طبیعي، سیاسي، بشري، اقتصادي او تاریخي جغرافیه (د نړۍ هېنداره) د دایرة المعارف ګوتې څلورم کتاب دی چې په دوو برخو او په 1313 مخونو کې، د الاذهر خپروندویه ټولنې له خوا، په خورا ښکلي قطع او صحافت په دې وروستیو ورځو کې خپور شوی دی.
باید ووایو چې دا څلور کتابونه په حقیقت کې د (نړۍ هېنداره) لومړي، دوهم، دریم او څلورم کتابونه دي؛ خو ټول به پنځه ټوکه وي. د لیکوال او مؤلف په وینا په پنځم ټوک (امریکا) کار روان دی او ژر به مینه والو ته وړاندې شي.

۱ ـ آسیا:

آسیا ۴۸ هېوادونه لري: آذربایجان، اردن، ارمنستان، ازبکستان، اسرائیل، افغانستان، عربي متحده امارات، اندونیزیا، ایران، بحرین، برما، بروني، بنګله دېش، بوتان، پاکستان، تاجکستان، تایلند، ترکمنستان، تایوان، چین، جاپان، سریلانکا، سنګاپور، سوریه، عراق، سعودي عربستان، عمان، فلیپین، ختیځ تیمور، فلسطین، قبرس، قرغزستان، قزاقستان، قطر، (شمالی) کوریا، (جنوبي)کوریا، کمبودیا، کویت، ګرجستان، لاوس، لبنان، مالیزیا، مالدیپ، منګولیا، مغولستان، نیپال، ویتنام، هندوستان او یمن چې په دې کتاب کې په بشپړه توګه معرفي شوي. دا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پېژندنه پنځه برخې لري: طبيعي جغرافيه، بشري جغرافيه، سياسي جغرافيه، اقتصادي جغرافيه، تاريخ او له افغانستان سره سياسي اړيکي چې دلته به لږ رڼا پرې واچول شي:

الف – طبيعي جغرافيه: د نامه لنډيز يا Date Code، نړيوال نوم، رسمي نوم، پخوانی نوم، سيمه ييز نوم، جغرافيايي موقعيت، پراخوالی په km^2 او ميل مربع، د هېواد څلور خواوې او له ګاونډيو هېوادونو سره د پولو اوږدوالی په km، لوی غرونه، جګې څوکې، سيندونه، اقليم او په پای کې نورې جغرافيايي ځانګړتياوې.

ب – بشري – سياسي جغرافيه: پلازمېنه او نفوس، د هېواد ټول نفوس، د نفوسو ګڼوالی په km^2 او ميل مربع کې، ښاري او کليوال نفوس، د ښاري کېدو سلنه، د نفوسو سني وېش، د جنسيت تناسب Sex ratio، په زرو ماشومانو کې مړينه، د نفوسو کلنی زياتوالی، د عمر منځنی اوږدوالی، د هرې ښځې د زېږون منځنی کلنی قابليت؛ د هېواد اداري جوړښت، لوی ښارونه او نفوس، حکومت، اساسي قانون، ولسمشر، لومړی وزير، ملی شورى، قضائيه ځواك، سياسي ګوندونه او د هغوی مشران، د فشار ډلې، نژاد، دين او مذهب، ژبه، ليکدود، د خپلواکۍ ورځ، په UN او نورو نړيوالو موسساتو کې غړيتوب، ملي بيرغ، ملي سرود او ملي نښان.

ج – اقتصادي جغرافيه: د هېوادونو د اقتصادي جغرافيې په بحث کې لومړی د هرهېواد په عمومي اقتصادي وضع کتنه شوې او بيا لاندې سرليکونه راغلي:

غيرخالص کورنی توليد GDP، د غيرخالص کورني توليد کلنی وده، د غيرخالص کورني توليد سکتوري جوړښت، سړي سر کلنی عايد Per Capita، انفلاسيون، د کار قوت د شمېر او سکتورونو په تفکيك، وزګارتيا، بودجه د عوايدو او لګښتونو په تفکيك، صنعتي توليدات، د صنعتي توليداتو کلنی وده، د برېښنا توليد او منابع د تېل او ګاز توليد، لګښت او زېرمې، صادرات او واردات؛ کرنه، څاروي، ځنګلونه، سيلانيان، غټ کانونه، صادرات او واردات د بيې، اقلامو او سوداګريزه شريکانو په تفکيك؛ بهرني پورونه، مخابرات، رسنۍ؛ ترانسپورت د اورګاډو، لويو لارو، نقليه وسايطو، نلليکو، سوداګريزه الوتکو او بېړيو په تفکيك؛ رسنۍ او ټولنيزه پرمختيا. د ټولنيزې پرمختيا په بحث کې په هر هېواد کې د باسواده خلکو، د ښوونځيو او پوهنتونونو د زده کوونکو او استادانو د شمېر، مطبوعاتو، روغتيا او ورزش په هکله لنډ معلومات راغلي دي.

له دې وروسته د هر هېواد د سيمه ييزو يا نړيوالو لانجو ذکر راغلی، په پوځي تشکيلاتو رڼا اچول شوې او له هېواد څخه د وتلو يا راغلو مهاجرو او بېځايه شوو خلکو په هکله معلومات وړاندې شوي.

تاريخ: د هېوادونو د تاريخ په برخه کې په لرغوني تاريخ لږ خبرى شوي او هڅه شوې چې په معاصرو پېښو بحث وشي. له دې وروسته له هر هېواد سره د افغانستان د اړيکو برخه راغلې. دا برخه د کتاب په لومړيو او دوهمو چاپونو کې نه وه او بحث بلل کېږي.

د نړۍ هېنداره لومړی ټوك (آسيا) د لومړي ځل له پاره په 2000م (1379 ل.هـ) کې چاپ شوی دی چې 192 اخځونه لري او ټول د کتاب په پای کې معرفي راغلي. دا کتاب يو اتيا مخيز قاموس (نوملړ) هم لري چې له لوستونکيو سره د ځينو جغرافيايي نومونو يا اصطلاحګانو. لکه ټاپو، ټاپو وزمه، طول البلد، نقشه، استوا، حاره، سمندرګی او داسې نورو د مانا په پوهېدنه کې مرسته کوي.

دا کتاب په کال 2003 کې الازهر خپرندويه ټولنې پرته له کوم متني توپيره بيا خپور کړ. دا ځل په کتاب کې يو بل قاموس هم زيات شو چې هغه نړېوالې ټولنې پکې معرفي شوې چې مطلوب هېواد پکې غړيتوب لري، لکه UN، IAEA، NAM، WTO او داسې نور. کېدای شي چې ځنې درانه لوستونکي دا ټولنې سمې و نه پېژني، له همدې امله ليکوال په دې قاموس کې کابو 70 نړيوالې ټولنې په لنډه توګه معرفی کړي، چې د موضوع د ښه درك په برخه کې مرسته وکړي.

له هغه ځايه چې زده کوونکو، محصلينو، د جغرافي استادانو او ژورناليستانو دې کتاب ته ډېره اړتيا درلوده؛ ځکه مؤلف په 2012 کې د دې کتاب د نوي کولو او بيا ليکنې کار پيل کړ. نوي کتاب په 2012 کې بازار ته راغی. په لومړيو او دوهمو چاپونو کې د کتاب مخونه 835 وو، خو په دريېم چاپ کې دا شمېر 1280 ته لوړ شو. کتاب ته د ډېرې تقاضا د شتوالي له امله خپرندويه موسسې دا کتاب د 2013 په اپريل کې بيا خپور کړ او په دې توګه دا کتاب په تېرو 13 کلونو کې څلور ځلې چاپ شوی.

۲ – استراليا:

د نړۍ هېنداري دوهم ټوك استراليا(اوقيانوسيه) نومي. دا کتاب لومړي ځل په 2003(1382 ل.هـ ش) کې په پېښور کې، (د ساپې پښتو څېړنو او پراختيا مرکز) له خوا خپور شوی و.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د استرالیا د کتاب په پیل کې د مؤلف په سریزه سربېره، د نړۍ د خپلواکه هېوادونو او د نړۍ د ناخپلواکه سیمو جدولونه راغلي دي چې د آسیا په کتاب کې هم شته، په دې جدولونو کې د هر خپلواکه هېواد یا ناخپلواکه سیمې موقعیت، پلازمېنه، د نامه لنډیز او په UN کې غړیتوب یا نه غړیتوب راغلی او بیا د کتاب متن پیل کېږي چې د استرالیا یا اوقیانوسیه د لویې وچې یا قارې دا هېوادونه پکې معرفي شوي. د استرالیا لویه وچه، د استرالیا هېواد، فیجي، کریباتي، مارشال، میکرونیزیا، ناورو، نوی زیلند، پالوو، پاپوانیوګیني، ساموا، سلیمان، تونګا، تووالو او وانواتو.
دا کتاب په ۲۰۰۵ کې د دوهم ځل له پاره چاپ شو چې اوس یې درېیم؛ خو ښکلي چاپ مینه والو ته وړاندې شو.
د دې کتاب د تألیف له پاره له 51 معتبرو اخځونو کار اخستل شوی او کتاب ټول 450 مخونه لري. په دې 450 مخونو کې هغه دوه قاموس ګوتې هم شته چې د آسیا د ټوك په پای کې راغلي وو.

۳- افریقا:

د نړۍ هېنداري درېیم کتاب (افریقا) دی. افریقا لومړی ځل په 2003 کې د ساپي د پښتو څېړنو او براختیا مرکز له خوا په پېښور کې په 826 مخونو کې خپور شوی و چې د مینه والو د غوښتنو له امله، الاذهر خپروندویه ټولنې بې له کوم متني توپیره په 2005 کې بیا خپور کړ او دا دی اوس له ډېرو نویو معلوماتو او ارقامو سره یو ځلې پیا په 1237 مخونو کې خپور شو.
هغه افریقایي هېوادونه چې په دې کتاب کې پېژندل شوي 54 دي چې جنوبی سودان بکې نوی دی:
اریتریا، استوایي ګیني، الجزایر، انګولا، ایتوپیا، بوتسوانا، بورکینافاسو (پاسنۍ ولتا)، بوروندي، بینین، تانزانیا، توګو، تونس، جنوبي افریقا، جنوبي سودان، جیبوتي، چاد، د عاج ساحل، رواندا، زمبیا، زیمبابوي، ساوتومي او پرنسیپي، سنیګال، سوازیلند، سودان، سومالیا، سېرالیون، سیشلز، صحرا(د ج)، کامرون، کانګو(ج)، کانګو(د ج)، کومورو، کیپ وردي، کینیا، ګابون، ګانا، ګمبیا، ګیني، ګیني بیساو، لایبریا، لیبیا، لیسوتو، مرکزي افریقا، مالي، مدغاسکر، مراکش (المغرب)، مصر، ملاوي (نیاسالند)، موریتانیا، مورشیس، موزمبیق، نامیبیا، نایجر، نایجیریا او یوګندا. ناویلي دې نه وي پاته چې دا کتاب د آسیا، استرالیا او افریقا په شان د هېوادونو نقشې او ملي بیرغونه هم لري.

۴- اروپا: د نړۍ هېنداري څلورم کتاب (اروپا) دی چې لومړی ځل په 1384 هـ.ش (2005م) کې، په پېښور کې، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز او الاذهر خپرندویه ټولنې په ګډ زیار خپور شوی و.
په هغه کتاب کې د مؤلف سریزه، د نړۍ د خپلواکه هېوادونو یا ناخپلواکه سیمو د پېژندګلوي جدولونه، د اروپا د قارې پېژندګلوي او بیا دا هېوادونه راغلي.
البانیا، آندورا، استریا (اتریش)، بېلاروس (سپینه روسیه)، بوسنیا او هرزګوینا، بلجیم (بلژیك)، بلغاریا، کروشیا، چك، ډنمارك، استونیا، فنلند، فرانسه، جرمني، جورجیا، یونان، هـنګـري (مجارستان)، آیسلند، ایـرلـند، ایــتــالیا، لاتویا، لیختن شتاین، کوسوو، قبرس، لتوانیا، لوکزامبورګ، مقدونیا، موناکو، هالند، مالتا، مولدووا، ناروې، پولند، پرتګال، رومانیا، روسیه، سان مارینو، صربیا، مونتینګرو، سلواکیا، سلوینیا، ترکیه، اسپانیا، سویډن، سویس(سویتزرلند)، او کراین، برتانیا او واتیکان.
دا کتاب د 2014 د دسمبر په میاشت کې له پوره او نویو معلوماتو سره یو ځای د الاذهر خپرندویه ټولنې له خوا خپور شوی چې داځل 1313 مخونه او 70 اخځونو لري.
د نړۍ هېنداري کتاب پنځم ټوک امریکا دی چې تر اوسه نه دی نوی شوی.
په افغان مطبوعاتو کې د نړۍ د هېوادونو د پېژندګلوۍ (طبیعي، سیاسي، بشري، اقتصادي او تاریخي جغرافیه) د تفصیلي کتاب ځای چې ښاغلی احسان الله آرینزی یې دایرة المعارف ګوتې بولي، په رښتیا تش و او دا هغه لومړنی کتاب دی چې په پښتو ژبه د نړۍ د ټولو هېوادونو د پېژندګلوۍ په اړه لیکل شوی دی. کتاب ټول له ارقامو ډك دی او په داسې ساده ژبه لیکل شوی چې په پښتنو سربېره دري ژبې مینه وال هم استفاده ورځني کولی شي.
په کتاب کې د خلکو، ځایونو، ګوندونواو نورو مهمو نومونو تر څنګ د هغو انګلیسي نومونه هم راغلي، چې له لوستونکیو سره د کتاب د لوستلو په وخت کې د سم تلفظ مرسته شوي وي.
د نړۍ هېنداري معلومات زمونږ د ښوونځیو د جغرافیې د ښوونکو، زده کوونکو، د پوهنتونونو د محصلینو، ژورنالیستانو او د عمومي معلوماتو د لیوالو له پاره په زړه پورې دي. د کتاب ډېرې شمېرنې نوې او له وروستیو کلونو سره تړاو لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کتاب اخځونه چې د هر ټوك په پای کې راغلي د ډاډ وړ دي. دا اخځونه کتابونه، دایره المعارفونه، مجلې، اخبارونه، د کمپیوټر سي ډي ګانې CDs او انټرنت پاڼې دي..
دلته دا خبره د یادونې وړ ده چې د نړۍ هېنداري په خپرولو سره نه یوازې دا چې د کابل کالنۍ نشراتي عنعنه ژوندۍ وساتل شوه، بلکې له هغې څخه په لوړ کیفیت او له معاصرو تخنیکي او علمي امکاناتو څخه په مرسته د نړۍ د ټولو خپلواکه او ناخپلواکه هېوادونو او سیمو عمومي او انسکلاپیدیک معلومات په نوي او علمي بڼه د هېواد د فرهنګ مینانو ته وړاندې شوي.
ناویلي دې نه وي پاتې چې د کتاب ښاغلي مؤلف د(آسیا)، (افریقا)،(استرالیا)، (اروپا) او(امریکا) د ټوکونو په هره سریزه کې له ښاغلیو لوستونکیو او فرهنګیانو څخه په کلکه هیله کړې، چې له ده سره د دې دایره المعارفګوتې په بشپړولو کې مرسته وکړي او مشورې ورکړي. لیکوالو او مؤلفینو ته د مشورو ورکول او د دوی پر کارونو علمي کره کتنې، له هغوی سره مرسته کوي چې د خپل کار نیمګړتیاوو ته ځیر او داسې آثار خپاره کړي چې لوستونکو ته ګټور وي.
د 2014 په دسمبر کې د افغانستان علومو اکاډمۍ د سیمه ییزه څېړنو انستیتوت او آریانا راډیو- ټلویزیون په ګډه په دې کتاب د کره کتنې غونډه جوړه کړې وه. په دې غونډه کې د افغانستان د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب او د ښوونې او روزنې د پوهنتون د جغرافیې څانګې استادانو، د کابل پوهنتون او علومو اکاډمۍ مسلکي غړو او یو شمېر استادانو، پوهانو او علمي شخصیتونو برخه اخستې وه.
ښاغلیو ویناوالو د داسې علمي او معلوماتي کتابونو د لیکلو او خپرولو په برخه کې د افغانستان د پوهانو او علماوو د کار او زیار په ارزښت ټینګار وکړ او وې ویل، چې په افغانستان کې د یوه نوي فعال، زیارایستونکي، پوه او مدبر نسل د روزنې له پاره علمي آثارو ته ډېره اړتیا ده او د ښاغلي آرینزي یې وستایه چې همدا یو کتاب یې نژدې 6000 مخونه لري.
د نړۍ هېنداري مؤلف ښاغلي احسان الله آرینزي وایي چې د (د نړۍ هېنداره) اوسني کتابونه د هېواد د نومیالیو استادانو په مشوره تالیف او تر ډېره مسلکي معیارونه په پام کې نیول شوي دي.
ښاغلي آرینزي د (نړۍ هېنداره) د ستر کتاب لیکوال او د ګران افغانستان ټولو پوهانو، استادانو اوعلماوو ته د ډېرو بریالیتوبونو په هیله، د دې لیکنې لمن رانغاړو او انتظار باسو، چې د دې کتاب وروستی ټوک (امریکا) هم ژر مینه والو ته وړاندې شي او لکه څنګه چې ژمنه شوي د دې کتاب درې ژباړه هم بشپړه او چاپ شي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ